ليکوال : داکتر نوراحمد خالدي
ژباړن: سیلاني

۲۰۱۹/۰۹/۱۱

# افغانستان له سیاسي خپلواکۍ وروسته

## لومړۍ برخه

امير امان الله خان مشهور په غازي امان الله خان، د امير حبيب الله خان زوی، د امير عبد الرحمن خان لمسی ، دامير دوست محمد خان کړوسی او په قوم بارکزی دی. دی په ۱۸۹۲ ز کال د جون میاشتي په لومړۍ نېټه د کابل په پغمان کي دې نړۍ ته سترګي وغړولې. امان الله په نظامي ښوونځي کي زده کړې وکړې او له پوخ سره نږدې په اړیکه کي و. نوموړی د خپل پلار حبيب الله خان له مړيني وروسته په ۱۹۱۹ ز کال د فبرورۍ د میاشت په ۲۸ نېټه واک ته ورسید. غازي امان الله خان په ۱۹۱۹ ز کال د خپلواکۍ جګړه ( د افغان او انګليس دریمه جګړه ) پيل کړه، چي دا کار د راولپنډۍ د تړون لامل شو، چي برېتانيا زموږ هېواد (افغانستان) د یو خپلواک هېواد په توګه په رسميت سره و پېژانده.

د شاه امان الله خان حکومت په ۱۹۲۰ ز کال له پخوانۍ روسيې ( شوروي )، وروسته له ايټاليا، ترکيې او ايران سره د دوستۍ تړونونه لاس لیک کړل. شاه امان الله خان يو ځل بیا په ۱۹۲۱ ز کال له پخوانۍ روسيې ( شوروي ) سره تړون لاس ليک کړ، چي په دې تړون کي يې د هرات، کندهار او کابل د تلګرافي خطونو امتیاز شوروي هېواد ته ورکړ. هغه په ۱۹۲۷ز کال د دسامبر په ۱۰ نېټه اروپايي، آسيايي او افريقايي هېوادونو ته خپل ۶ میاشتینی سفر پيل کړ او ۱۳۰۷ ل کال د ايران له لارې بېرته افغانستان ته را ستون شو او په اصلاحي اقداماتو يې لاس پورې کړ. امان الله خان په ۱۹۲۶ ز کال د مشروطه سلطنت اعلان وکړ او ځان يې شاه و باله.

د لويې جرګې جوړول او په هغه کي د لومړني اساسي قانون تصويبول، د مري ساتلو له منځه وړل، د شاهي مشروطه نظام جوړول، د قواوو تفکيک، په اجباري توګه د پوهې زده کړه، په مالي سيستم کي د اصلاحاتو راوستل، د اجباري کار منع کېدل، د لوړو زده کړو د ترلاسه کولو په موخه، بهر ته د ځينو زده کړيالانو لېږل ، په کابل کي د لومړني عامه کتابتون جوړول، د ورځپاڼو خپرېدل او درې ورته نور کارونه د نوموړي پېر له اړينو بدلونونو څخه شمېرل کيږي. په ټوليزه توګه د شاه امان الله خان پير د هېواد د ځلانده دورې په نامه يادېږي. دا چي دشاه امان الله خان اصلاحي اقدامات د ټولني د ځينو اقشارو له روحيي سره ناسازګاره او له غبرګونونو سرهم مخامخ شو، همدې کارونو دده د سلطنت پر وړاندې خوزښتونو ته لاره هواره کړه چي په پايله کي حبيب الله کلکاني د شاه پر وړاندي ځوښتونه وکړل، دی دې ته اړ شو چي واک پرېږدي او ايټاليا ته لاړ شي.

هېره دې نه وي چي د حبيب الله کلکاني څخه مخکي په ۱۳۰۳ل ( ۱۹۲۴ م ) کال ځينو افراطي ملايانو او روحانيونو د انګليسانو په ملاتړ د شاه غازي امان الله خان د واکمنۍ پر وړاندې تبليغات کول او خلک يې خوزښتونو ته هڅول. هغوی دشاه امان الله خان د دوري ټول اصلاحي اقدامات د اسلام خلاف کڼل او دغه هېواد پال او مترقي غوښتونکی شاه يې کافر ګڼل او د هغه پر وړاندې يې د فرض جهاد اعلان وکړ. دغو ملايانو په يوه لاس کي قرآن او په بل لاس کي د امان الله خان د جزا قانو نيولی و او په کليو و بانډو کي چي له پوهي بې برخي وګړي وو،ګرځېدل او خلکو ته به يې ويل: چي کوم يو منئ! قرآن يا د امان الله خان قانون؟ دا طبيعي خبره ده چي خلکو به ويل


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

قرآن. انګلیسانو په دغه توطئه کي ځانونه بریالي ګڼل نو په مستقیمي مداخلي یې لاس پوري کړ او یو تن هندو ( د عبدالکریم په نامه ) یې د امیر محمد یعقوب خان د زوی تر نامه لاندي په پکتیا ولایت کي د ځدرانو قوم ته دننه کړ، چي وروسته یې د خوزښتونو رهبري په لاس کي واخیسته. په لومړیو کي جګړه د پاڅون کوونکو په ګټه روانه وه، ځکه له یوې خوا د دولت بودیجه پای ته ورسېده له بله پلوه په یو ځل د دولت ۸۰۰ پوځیان ووژل شول، چي دا کار د اماني نوي جوړ شوي دولت ته کلکه ضربه وه. همداو چي عبدالکریم د انګلیسانو په ملاتړ په پکتیا ولایت کي د امارت د عوا وکړه. دا چي د افغانستان ډېری وګړي د غازي امان الله خان له کړنو خوښ و، تولو په یو غږ د دغو جاهلو پاڅون کوونکو پر وړاندي ودرېدل او ویې ځپل. میر غلام محمد غبار په خپل اثر (( افغانستان در مسیر تاریخ )) (لومړی ټوک،۸۰۹ مخ) کي لیکي: (( داچي خلک پوه شول چي دپکتیا پاڅون مذهبي ماهیت نه لري، بلکي سیاسي ماهیت لري او د انګلیس په مستیقمه مداخله پر مخ وړل کیږي، ټول د دولت په ملاتړ را پاڅېدل او د بهرنیو د نفوذ پر وړاندي سره یو شول.)) دغه خوزښت چي له یوه کال ډېر دوام وکړ، اماني دولت ته ډېر ګران تمام شو. تقریباً د دولت دیوه کال مالیات په سیند لاهو شول. وروسته شاه امان الله خان د پغمان په لویه جرګه له ځینو مرتجعه روحانیونو سره ناچاره دتفاهم او مماشاتو له مخي وړاندي لاړ او د خپلو اصلاحاتو یوه برخه یې ځنډ ته کره. په پایله کي د خلکو پراخي مرستي سره نوموړي پاڅونونه وځپل شول او مشران یې په تېښته بریالي شول. د دوی په ډله کي ګوډ ملا او ملا عبدالرشید چي غرونو ته تښتېدلي وو، دخلکو لخوا ونیول شول او دولت ته یې تسلیم کړل. په ۱۳۰۴ ز کال د جوزا میاشت په ۴ نېټه ګوډ ملا او ملا عبدلرشید له خپلو ۵۰ کسه همفکرو سره، وروسته له دې چي د محکمي لخوا وربانديِ د اعدام حکم صادر شو، د کابل په تپه مرنجان کي د یوي غونډۍ په ترخ کي اعدام شول او سلګونه نور کسان د دولت لخوا شمالي ولایتونو ته تعبیده شول.

شاه امان الله خان په ۱۹۲۷ ز کال د جون ۲۲ نېټه چي یو یادګاري څلی د (( علم و جهل )) په نامه د کابل په دهمزنګ کي د کابل سیند تر څېرمه د ګوډ ملا دپاڅون د پای ته رسېدو په پار جوړ کړی و، په یوه اړخ کي یې نوموړی پاڅون شرحه شوی او دریو نورو اړخونو کي یي د هغو افسرانو نومه لیکل شوي، چي په نوموړي جګړه کي شهیدان شوي وو.

شاه غازي امان الله خان زموږ په تاریخ کي د یوه روښان فکره او مترقي غوښتونکي شاه په نوم یادیږي، دده په پېر کي زموږ هېواد د ډېرو تحولاتو او اصلاحاتو شاهد و. بلاخره دی په ۱۹۶۰ ز کال د اپرېل ۲۵ نېټه د سوئیس په زوریخ کي ومړ او جنازه یې جلال آباد ته ولېږدول شوه او د خپل پلار ترڅنګ خاورو ته وسپارل شو.

کله چي امان الله خان په ۱۹۱۹ ز کال واکمنی ته ورسېده، برتانوي هند په افغانستان کي حتا سفارت هم نه درلود، یوازي یو کس د حافظ سیف الله په نامه په کابل کي اوسېده، نوموړی کس واقعه لیکوونکی و او هغه هم په نظر بندی کي ژوند تېره ؤ. دا په داسي حال کي ده، چي یو کس د سردار عبدالرحمن خان په نامه په رسمي توګه په دهلي کي د افغانستان د سفیر په توګه دنده درلوده. نو افغانستان څنګه یو ښکېلاک شوی هېواد ؤ، چي ښکېلاککرو یې په دې هېواد کي نه استازی درلود، نه هم پوځیان او نه هم کوم اداره چي؟ دا په داسي حال کي ده چي، هندوستان کي د مالیې کارکونکي، دګمرک مدیران، د امنیې قوماندان حتا د پوسته خانو کارکوونکي ټول انګلیسان ؤ، تاسو کولی شئ د نوموړي پوښتني ځواب د افغان او انګلیس د دویمي جګړي د پاي ته رسېدو په وخت کي وڅېړئ.

د افغان او انګلیس دریمه جګړه د می له دویمي څخه د ۱۹۱۹ ز کال د جون تر دویمي پوري دوام درلود، د راولپنډی د اوربند د هوکړلیک په لاسلیک کولو سره د ۱۹۱۹ ز کال د اګست په اتمه نېټه رسماً پای ته ورسېده. د انګلیسي هیئتانو رئیس سرهملتن ګرانت چي د بریتانوي هند د باندنیو چارو وزیر هم شتون درلود، د افغاني هیئتانو رئیس ( علي احمد خان )چي د افغانستان دکورنیو چارو وزیر هم و، په یو مکتوب کي دا تائیدوي، چي د انګلستان هېواد د افغانستان خپلواکي په کورنیو او باندنیو چارو کي په رسمیت سره پېژني. نوموړی په دې مکتوب کي دا تائیدوي چي(( په دغه جګړي او هوکړلیک سره د دواړو ښکېلو اړخونو تر منځ پخواني هوکړلیکونه له منځه ځي او نه شمېرل کیږي))

امان الله خان دپلار له مرګ وروسته د ۱۹۱۹ ز کال د مارچ په دریمه، د لوړي ( خول اېښودني ) مراسمو دادا کولو په ورځ، له خلکو سره ژمنه وکړه، چي خپلو ژمنو ته د عمل جامه ور اغوندي. امان الله خان ویلي و: ( په دې شرط سره دا خول او تخت منم، چي تاسو زما د افکارو او پلانونو په پلي کولو کي را سره مرسته وکړئ، د افغانستان حکومت باید په بشپړه توګه په باندنیو او کورنیو چارو کي خپلواک و اوسي.))

افغانان هر کال د اسد ۲۸ ورځ د خپلواکی د ورځي په توګه لمانځي او معمولاً د نوموړي ورځي جشن د سنبلې په میاشت کي تر سره کوي، که څه هم د افغانستان خپلواکي او د افغان او انګلیس دریمه جګړه د انګلیسانو لخوا کوچنی او کم ارزښته وښودل شوه، له دې سره سره نوموړي جګړه یو لویه جګړه بلل کیږي، په دغه جګړه کي بریتانوي هند ته۱۶ میلیونه پونده مالي زیانونه اوښتي دي، همدارنګه په دغه جګړه کي د دوی ۲۰۰۰ نظامي کسان وژل شوي دي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

ځيني کسان د افغانستان د خپلواکی په نېټه او تاريخ کې فتنه انګېزي کوي او هڅه کوي چي په دغه برخه کې د ابهام او پېچلتيا په را منځته کولو ځوانانو و غولوي، حقيقت دادی چې د را ولپنډی هوکړليک ورسره د هغه ضمايم په ۱۹۱۹م ز کال د اګست په ۸ نېټه،چې د ۱۲۹۸ ه کال د اسد له ۱۶ سره سمون خوري، د افغانستان خپلواکي تائيدوي. د دغه مطلب د لا ښه وضاحت او روښانتيا لپاره دلندن د الروز د ورځپاڼي ورستۍ برخه وګورئ. امان الله خان ۱۲ ورځي وروسته ( ۱۲۹۸ د اسد په ۲۸ ) د خپلواکی ورځ د عمومي رخصتي په توګه اعلان کړه.

د راولپنډی په ټول هوکړه ليک کې د خپلواکی کلمه نه ده ياده شوي، دافغانستان خپلواکي د سرهملتن ګرانت ( د برتانوي هيئتانو رئيس ) اود برتانوي هند د باندنيو چارو وزير په رسمي مکتوب کې چې علي احمد خان ( د افغاني هيئتانو رئيس او د افغانستان د کورنيو چارو وزير ) ته يې لېږلی و، تائيد شوی ده، چې دغه مکتوب د راولپنډی ( ۱۹۱۹ ز کال د اګست ۸ ) د رسمي تړون د ضميمي په توګه دی. د کابل د ۱۹۲۱ز کال تړون د دوستی تړون دی، د را ولپنډی د تړون او د هغه ضمايمو تکرار او تائيد کوي.

په ۱۹۹۹ زيږيز کال د اګسټ په اتمه، چې ۱۲۹۸ لمريز کال د اسد له ۱۶ نېټي سره سمون خوري، د انګليسانو له لوري د افغانستان د خپلواکی د رسميت پېژندني ورځ ده. په ۱۲۹۸ کال د اسد په ۲۸ نېټه د امان الله خان لخوا د راولپنډی د سولي د تړون تائيد، د خپلواکی تصديق دی، نه د خپلواکی ورځ. نو په همدې دليل سره د اسد د ۲۸ورځي ټاکل د خپلواکی د ورځي په توګه سم دی.تر اګست د مخه، په حوت او حمل کې د امان الله خان بيانيي، مخکې د انګليسانو لخوا د افغانستاد د خپلواکی ورځي له تصديق څخه وي او دا کار منطقآ د خپلواکی پيل نشي ګڼل کېدای. دا بيانيي د خپلواکی دترلاسه کولو لپاره تبليغات و.

له پورته يادو شويو پېښو پرته، د افغانستان د دولتونو نږدي دري سوه کلونو کې وګړو د ورور ولی په فضا کې ژوند درلود، په دې کې شک نشته چې ځيني سلاطين لکه امير عبدالرحمن او له ده وروسته او مخکې دده د کورنی غړي چي ظالم او مستبده واکمنان و، مګر دا استبداد او ظلم پرته له قومي او ژبني تعصبه پر ټولو مخالفينو تطبيق شوی دی. د پښتون ټبر ډېری قومي مشران له خپلو خپلونو او ټاټوبو څخه د هېواد نورو برخو ته تبعيد شوي دي. حتا د نادر خان او د هغه د ورونو په دور کې مخور پښتانه لکه: ملک قيس چې د ننګرهار د خوګيانيو اوسېدونکی و، له تبعيد له کبله يې د هېواد نورو سيمو کې ژوند کړ. همدارنګه ملک خان د ماليي وزير خپل ډېری عمر يې په زندان کې تېر کړ. دا منو چي مستبده واکمنان و، خو دا استبداد پرته له کوم قومي او ژبني تعصب څخه پر ټولو اقوام باندې پلي شوی دی. پښتون مېشته سيمي د پښتونو واکمنانو په شتون کې د ټولنيز، زېربنايي، مواصلاتي، مخابراتي او انرژۍ په برخه کې د غير پښتون مېشته سيمو په پرتله په ښه وضعيت کې نه و، بلکي لابدتر حالت کې و.

**اخځليکونه:**


.1The A to Z afghan wars, ,historical Afghanistan, p 465,Ludwig W .Adamec revolution lusurgencis,by Ludwig W .Adamec ,pages61-63 scarecrow presses linc Maryland,2005

.2In an interview with Durand quoted by leitner ,G. W. (1897)'the Amir, the frontier tribes and the

.3Sultan , 'the Adriatic quarterly review series 3, p 4, 237, quoted by kakar ,m. H. (2006) a political and diplomatic history af Afghanistan,1863-1901, London. Brill ,omrani ,B. And .Ledwidge ,f, op .Cit

.4The Durand line of 1893 divided zones of responsibility for the maintenance of law and order between British India and the kingdom af Afghanistan, it was never intended as a de jure international boundary .

.5Encyclopedia britannica ,Inc Date Published: December 07,2016 url:https://www.britannica.com/…/A…/dustmohammad-1826-39-1843-63 , Access Date:Airil .(02,20

.6The express tribune (2012) splintering Relations: Durand line is a settled issue, says fo '





افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de

يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

۷. میر غلام محمد غبار. افغانستان در مسیر تاریخ. چاپ چهارم. مرکز نشر انقلاب با همکاري جمهوري، س۱۳۶۸.ص ۵۸۴-۵۸۳.

۸. مونستوارت الفنستون"گذارش پادشاهي کابل و توابع آن در تار تاري، فارس و هندوستان"، در دوجلد بزبان انگلیسي، چاپ لندن، ۱۸۴۲م.

۹. افغانستان در پنج قرن آخیر، میر محمد صدیق فرهنگ، جلد اول، انتشارات محمد وفایي، چاپ دوم قم ۱۳۷۴ شمسي.

۱۰. افغانستان در مسیر تاریخ، میر غلام محمد غبار، جلد اول، صحافي احساني، قم ۱۳۷۵ شمسي.

۱۱. تاریخ مختصر افغانستان، عبدالحی حبیبي، چ. سوم۱۳۷۷هـ.ش دانش کتابخانه پیشاور

۱۲. تاریخ روابط سیاسي ایران و انگلیس در قرن نزدهم میلادي، محمود محمود، چاپ چهارم تهران ۱۳۵۳هـ.ش

۱۳. وبسیات انگلیسي گندهارا تاریخ ۱۱ اپریل۲۰۱۸

۱۴. روزنامه اکسپرس تربیون پاکستان

۱۵. سفرنامه و خاطرات امیر عبدالرحمن خان و تاریخ افغانستان۱۷۴۷ تا ۱۹۰۰م، به کوشش ایرج افشارسیستاني ناشر موسسه انتشاراتي و آموزشي نسل دانش، تهران۱۳۶۹



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ